# اې خلکو، يقينا چې الله جل جلاله ستاسو څخه د جاهليت غرور او په پلرونو وياړ لرې کړی دی

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکې د فتحې په ورځ خلکو ته خطبه ورکړه نو ويې ويیل: « اې خلکو، يقينا چې الله جل جلاله ستاسو څخه د جاهليت غرور او په پلرونو وياړ لرې کړی دی ، خلک دوه ډوله دي، نيک، پرهيزګاه او د الله تعالی په وړاندې عزتمن، او بې لارې بدبخته، او د خلکو په وړاندې سپک، او خلک د آدم اولاده دي، او الله تعالی آدم له خاورې پيدا کړی دی، الله تعالی فرمايلي: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} [الحجرات: 13] .اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا کړي يئ او مونږ تاسو څانګې او قبيلې ګرځولي يئ، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی».

[صحيح دی] [الترمذي او ابن حبان روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکې د فتحې په ورځ خلکو ته په خطاب کې وفرمايل: اې خلکو، الله تعالی ستاسو څخه د جاهليت کبر، وياړ، ننګ او په پلرونو وياړ پورته او لرې کړ او يقينا چې خلک دوه ډوله دي: يا خو مؤمن، صالح، پرهېزګار، فرمانبردار او د الله سبحانه وتعالی عبادت کوونکی وي، نو دا سړی د الله تعالی په وړاندې عزتمن دی، که څه هم د خلکو په اند د اصل او نسب خاوند څخه وي. او يا کافر، بې لارې او بدبخته چې دا د الله تعالی په وړاندې سپک دی، او هېڅ ارزښت نه لري، که څه هم د اصل له اړخه د غوره مرتبې، وقار او واک خاوند وي. او خلک ټول د آدم اولادونه دي، او الله تعالی آدم له خاورې څخه پيدا کړی دی، نو هغه څوک چې اصل يې له خاورې څخه وي ورته نه ښايي چې کبر وکړي او ځانته مغروره شي، د الله تعالی دا وينا د دې خبرې تصديق کوي چې فرمايي: {يا أيها الناس إنا خلقناكم من ذكر وأنثى وجعلناكم شعوبا وقبائل لتعارفوا إن أكرمكم عند الله أتقاكم إن الله عليم خبير} [الحجرات: 13].اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له يوه سړي او له يوې ښځې پيدا کړي يئ او مونږ تاسو څانګې او قبيلې ګرځولي يئ، د دې لپاره چې تاسو يو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نيز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زيات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee